آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی او ادبی ویب پانه
http://www.arianafghanistan.com

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۰٤/۳۰

# اختر په وینو

خدایه بیا هغه محشر دی اختر بیا په وینو سور دی
د زلمو وینی بهیږي د بودا په وینو سور دی
لا یې هم نېکمرغه بولي د کانه اولس وګړي
چې هم نن په وینو لژند هم سبا په وینو سور دی
د دې ښار اجل راغلی مرګي کور پکښې اوډلی
نن به زما جنازه اخلې سبا ستا په وینو سور دی
نه په خپل کور کې ساتلي نه د خدای په کور کې امن
هم شهید مقتدي پروت دی هم مُلا په وینو سور دی
نن به ښه کیسه توده وي د پردي قاتل په کور کې
هم بچی اندام دی هم ابا په وینو سور دی
د شهید جنازه پرېږدی د قاتل سیوری رانیسی
پل د چا کورته دریږي لاس د چا په وینو سور دی
لا تر څو به د پردیو له شامته ګیله من یو
ورور شهید ورور یې قاتل دی د لالا په وینو سور دی
زموږ د خپل تربور په وینو د زمان ژرنده چلیږي
هر مزل مو له پیریو د اشنا په وینو سور دی
د شهید زیارت یې ورک دی پر قاتل جنډی ولاړي
د رندو لیونو ښار دی د هرچا په وینو سور دی
کشکي نه وای شاعر سوی د بدبخت اولس په ژبه
قلم ډک لرم له وینو نظم زما په وینو سور دی.

د ۲۰۲۲ کال د اپریل نهه ویشتمه، ویرجینیا.



برای مطالب دیگر عبدالباری جهانی روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com